# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد
بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم
از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com
afgazad@gmail.com

| Ideological | مسایل ایدیولوژیک |
| --- | --- |



الحاج داکترامین الدین « سعیدی – سعید افغانی »


۰۹ جولای ۲۰۱۵

## په پشلمي کې تأخير کول ، او په روژه ماتی کې بيړه

داسلام ستر رهبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم روژه درانو ته دستور او هدايت ورکړی تر څو په روژه ماتی کې بیړه او په پشلمي کې تأخير وکړی دغه علمی رهنمود دحضرت أَبي هُريرةَ (رض ) ه روايت شوی حديثی کی داسی بیان شوی :

« قَالَ الله عزَّ وجلَّ: أَحبُّ عِبادِي إِليَّ أَعجَلُهُم فِطراً» (الترمذي ۶۹۶) .( له ابی هريرة (رض) نه روايت دی چې رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي : د الله تعالی ارشاد دی چې پخپلو بنده ګانو کې ماته هغه بنده خوښ دی چې په روژه ماتي کې بيړه کوي . يعني چې کله ماښام شي نو بيا وخت نه تيروي . )

همدغسی د بخاري شريف په بل حديث کې راغلی :« لا يزال الناس بخير ما عجلوا الفطر » . (بخاری ۱۸۵٦) (څو پورې چې زما امت په روژه ماتي کې بيړه کوي نو هغوی به په ښه حال کې وي .)

«إِذَا أَفطَرَ أَحَدُكَم فَلْيُفطِرْ عَلَى تمرٍ فإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفطِرْ عَلَى ماءٍ فَإِنَّهُ طَهُورٌ »(سنن الترمذي ۶۹۱ ) .

(په تاسي کې چې دچا روژه وي نو هغه به روژه په خرما يا کجوره ماتوي که خرما نه وي نو بيا به يې په اوبو ماتوي ځکه چې الله تعالی اوبه (طهور) پاکی ګرځولی دي . )